مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۸/۰۳

یمه روان، خو پته نه لرمه

دغه څو توري مي هغو هېوادوالو ته لیکلي چې پر هېواد او خلکو باندې د روان حالت په ترڅ کې د جګړې له اور نه د ځان او کورنۍ د خلاصون په خاطر پرته له دوو پښو نه نور هېڅ ورپاتې نه دي، له هر لورې ځخه ناهیلي شوي او د لارورکو لارویانو پر پلونو باندې، د نامعلوم ادرس په هیله روان دي.

ترټولو زورونکي او دردونکي پېښې یې د هلمند او کندهار په کلو، کوڅو او واټونو کې لیدل شوې دي او دا غمیزه همدا اوس هم روانه ده:

(آصف بهاند)

یمه روان، خو پته نه لرمه

د کرکې نېښ مې پر بدن خښ شو
چا مې پروا ونکړه
د جګړې تالندې بربېنا له هر لور وځپلم
لاس و پښې او ټول وجود مې مات شو
زما د باور شیشه شوه ماته، ښکته تویې شوله
زړه مې هم مات شو او ذرې، ذرې شو
راته هېڅ پاتې نه شول
ما هم مات زړه په لاس کې ونیو، ووتم له کلي
ګوره چې چېرې به ځم
یمه روان، خو پته نه لرمه

۲۰۲۱/۰۷/۳۰
هېدرسلیف
ډنمارک

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ